مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

لیکوال: کاندید اکادمیسین محمد اعظم سیستاني

ژباړن : سیلاني

۲۰۱۹/۰۹/۱۱

# د شاه غازي امان الله خان درې ستر آرمانونه

## (د پوهني تعمیم، ملي وحدت او د قانون تطبیق)

### د خپلواکۍ د سلمي کالیزې په ویاړ!

سږ کال د اسد ۲۸،چې د خپلواکۍ د بېرته اخستلو له سلمي کالیزې سره سمون خوري، کېداشي د ښاغلي جمهور رئیس غني په امر د دارالمان په قصر کې د کرزي او رباني د دورې په پرتله د خپواکۍ جشن په ډېروشاندارو مراسمو سره ونمانځل شي. نو په دې اساس دغه ملي جشن خپلو ټولو هیواد والو ته هر چېرې چې وي، د زړه له کومې مبارکي وایم او د خپلواکۍ د لارې ټولو شهیدانو ته درود او سلام وړاندې کوم.
خپلواکي هغه با ارزښته ملغلره ده، چې خلک هغه د وینو په بیه تر لاسه کوي، ځکه ورته د خپل ځان په بیه ګران او درنښت یې کوي. زموږ په هیواد کې د خپلواکۍ جشن له کورنیو جګړو مخکې هر کال د یوې اونۍ لپاره نمانځل کېده او زموږ خلکو له دغه جشن څخه په ډېرې خوشحالۍ سره نمانځنه کوله. مګر د داود خان د واکمنۍ له پرزېدو وروسته دا لړۍ تته شوه، چې د کرزي په واکمنۍ کې دا جشن هېرېدولو په حالت کې و.
د هیواد د خپلواکۍ د نمانځنې په بهیر کې هغه نوم چې د هیواد له خپلواکۍ سره نه شلېدونکي اړیکې لري، هغه نوم د شاه غازي امان خان دی. هیڅ با وجدانه او هیواد پال افغان به پیدا نشي چې د هیواد خپلواکۍ ته درنښت نه وکړي او ورسره هم مهاله د آزادي غوښتونکي رهبر شاه امان الله خان په فکر کې نشي او د هغه ملي شخصیت ته درنښت ونه کړي.
پر افغانانو د شاه غازي امان الله خان کوچنی حق، د هیواد د بشپړې سیاسي خپلواکۍ تر لاسه کول دي. له شک پرته که نوموړي افغانان د هیواد د خپلواکۍ د ترلاسه کولو په موخه د انلګیسانو پر وړاندې نه وی رابللي او د خپل پلار په شان د انګیسانو ترڅنګ ولاړ وی، نو د ژوند تر پایه به د افغنسان واکمن و او تر کومې مودې چې انګلیسانو نه وای غوښتی، نو د هغه پر وړاندې به هیڅ ډوک دریدلی هم نشوی . مګر هغه د خپل هیواد او خلکو له پرمختک اوخپلواکۍ سره بې ساري مینه درلوده او هغه دغه تاج و تخت د خپل هیواد او خلکو د آزادۍ په لاره کې نذرانه کړل. هغه په خپله لومړنی وینا کې چې د کابل په مراد خانی میدان کې یې په ۱۹۱۹ ز کال د فبرورۍ په ۲۴ نېټه کې هیواد والو ته وکړه، په خپلو ویناوو کې یې د هیواد او هیواد والو پر بشپړې خپلواکۍ تاکید وکړ او خپله واکمني یې د هیواد په بشپړې خپلواکۍ پورې مشروط وګڼله او ویې ویل:
(( ګرانو هیوادوالو! زه تر هغه وخته پورې دا نظامي جامې له ځانه نه وباسم ، ترڅومې چې خپل ګران هیواد ته د خپلواکۍ جامې نه وي جوړې کړي! زه دا توره تر هغه وخته په خپل پوښ کې نه ږدم، ترڅو چې غاصبینو زما د هیواد والود حق بېرته نه وي ورکړی! اې زما ګرانو هیواد والو او سرښندونکو سربازانو! راځئ خپل ویاړلي سرونه د هیواد دخلاصون لپاره قرباني کړو، او په خپلې ټولو شته امکاناتو دا هیواد وژغورو)) ( سراج التواریخ، ۴ ټوک، دریمه برخه، ۶۶۷ مخ)
د خپلواکۍ غوښتونکي شاه دغه ویناوې د پوځیانو او کابل مېشته هیواد والو لخوا په غریو او د الله اکبر د نارو په کولو سره بدرګه شوې، د هیواد پر وړاندې د شاه غازي امان الله خان د دغه نه ماتېدونکی اوسپنیز هوډ پایله، د هیواد والو ملاتړ او د هیواد د بشپړې سیاسي خپلواکۍ د ترلاسه کولو لامل شو.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولئ

شاه امان الله خان د راولپنډی د سولې دتړون له توشیح وروسته په ۱۲۹۸ ل کال د اسد په ۲۸ نېټه په زرافشان ماڼۍ کې، چې د کابل د زر نګار پارک تر څېرمه واقع دی، د افغانستان د بشپړې خپلواکی ورځ رسماً اعلان کړه او ګډونوالو ته يې وويل:

(( ای زما مصمم ملته! تاسو ته په ياد دي، چې ما د خپلې واکمنی په پيل کې ستاسو تاج او واکمني د افغانستان د خپلواکۍ دبېرته اخستلو په شرط پر خپل سر کېښېښود... زه د ستر څښتن تعالی شکر ادا کوم چې خپلې موخې ته ورسېدم، نن د ترکيې، آلمان، برتانيې، روسيې، اتريش او بخارا حکومتونه زموږ خپلواکي په رسميت پېژني. زه ددې سترې بريا مبارکي تاسو ټولو ته وړاندې کوم.( دحاضرينو ستاينه او خوښني: زنده باد شاه...) شاه د خپلو ويناوو په يوې برخه کې وويل : (( ای ملته! د الله (ج)او هېواد لپاره د پوهې د تر لاسه کولو لپاره هڅه وکړئ، ځکه يوازې د پوهې له لارې موږ کولی شو خپلو دييني او دنيوي برياوو ته ورسېږو. يو ناپوهه کس نه شي کول خپل رب وپېژني.)) وروسته له دې شاه امان الله خان په ټول هېواد کې د پوهنې د تعميم او د ښوونځيو په جوړولو لاس پورې کړ او له خلکو يې وغوښتل تر څو خپل اولادونه د پوهې د تر لاسه کولو په مخه ښوونځيو ته واستوي.

**د ملي وحدت ساتنه:**

د سياسي خپلواکۍ له لاسته راوړلو وروسته، شاه امان الله خان او د هغه مشروطه غوښتونکو ملګرو دټولنې د روسته پاتي والي او بدلون په موخه يو لړ اصلاحاتو ته لاس په کار شول، چې د ټولو په سر کې د ملي وحدت ساتنه وه. شاه امان الله خان له ټولو مسائلو مخکې د هېواد د ملي وحت مسئلې ته ځانګړې پاملرنه وکړه او په ډېره عاقلانه توګه يې دافغانستان د وګړو ملي وحدت په مساويانه توګه د قانون پر وړاندې په حرکت را ويست. په لومړنيو ټولنيزو اصلاحاتو کې د اماني دولت تر ټولو اړينه کړنه، د افغانستان د اساسي قانون طرحه او تصويب و. دغه اساسي قانون په ۱۳۰۱ ل کال د جلال آباد په لويه جرګه کې، چې د شاه امان الله خان په رياست جوړه شوې وه، تربحث لاندې ونيول شوه او وروسته تصويب شو. په دې کار سره افغانستان په خپل ۵۰۰۰ زره کلن تاريخ کې د لومړي ځل لپاره د يو داسې اساسي قانون څښتن شو، چې پر ټولو لوړو انساني حقونو ولاړ و. د دغه اساسي قانون، دحقونو په عمومي څپرکي کې داسې راغلي: د ځانګړې خپلواکۍ او انډولتوب اصول، د مريتوب او برده ګۍ له منځه وړل، د رسنيو خپلواکي، د کار او مسلک آزادي، د ځانګړې ملکيت او ځای مصئونيت او غضب مخنيوی، د غير قانوني ربړولو او شکنجې له منځه وړل او دې ته ورته نور ډېر اړين موضوعات پکې ځای پر ځای شوي و. ( مواد : ۹ و۱۰و ۲۴،۲۲ )

د نوموړي قانون په ۱۶ ماده کې ليکل شوي و: ((د افغانستان ټول اتباع د شريعت او د دولت د قوانينو پر بنسټ له مساوي حقوقو څخه برخمن دي.)) همدارنګه د دغه اساسي قانون په يولسمه ماده کې راغلي و: (( په افغانستان کې د مريتوب او برده ګی اصول بلکل موقوف شوي دي.)) ددغې مادې دحکم پر بنسټ ۷۰۰ هزاره مريان او کنيزې په کابل ښار کې د خپلو اربابانو له کورونونه څخه ووتل. همداو چې د نورو ټبرونو او وګړو په پرتله ډېر هزاره ګان د شاه امان الله په ملاتړ را پورته شول، چې برعکس همدوي د ټولو ټبرونو او وګړو په پرتله ډېر د سقاوي رژيم تر غضب او ربړو لاندې راغلل.

د ډنمارکي څېړونکي او استاد په خبره : (( په دغه اساسي قانون کې د افغانانو لپاره د هغو حقوقو وړاندوينه شوې وه، چې په غربي لبيرالي قوانينو کې يې هم شتونو درلود. ملي هويت د (( افغان )) په توګه د قوانينو په ساتنې سره د ټولو لپاره مساوي او يو ډول تأمينيدل. دغه قوانين په افغانستان کې انقلابي و، نه يوازې داچې د وګړو د مدني حقونو غوښتنه يې کوله، بلکې د دولت د دستګاوو سمون او دکابينې اصل مسؤوليت يې ورته په نښه کو. په همدې دليل يې د پادشاه واک محدوداو او قانون ته يې تابع کو( ۷ ماده ) په افغانستان کې د راديکال مقاطعه د مروجو شخصي او استبدادي حاکميتونو څخه و.)) ( استاد اولسن، اسلام وسياست در افغانستان، ترجمه خليل الله زمر، ۱۹۹۹ دنمارک، ص ۱۱۴، ۱۲۴ )

مير غلام محمد غبار شاهدي ورکوي، چې د نوموړي اساسي قانون د موادو روح دا و، چې په عمل کې پلې کېده او د دروغو و چل له ککړتيا څخه پاک و. هغه داچې د اماميه مذهب تکيه خانې، مذهبي مراسم او پيران يې عملاً ازاد شول. د کندهار، غزنی،جلال اباد او دکابل د معارف د انجمن د مشورو په غونډو کې د هندوانو يو يو انتخابي استازې شامل او د ادارو په چارو کې سهيم شول. دهندوانو اولادونه په ملکي او نظامي ( په حربيه او حبيبه ښوونځيو کې ) و منل شول او نور د خلکو ترمنځ ژبني، قومي، مذهبي تبعيض وتفريق نه موجود. د محمد زاييو قبيلې، خپلوي او د روحانيون مياشتنی امتياز له منځه لاړ او ټول وګړي د حقوقو په لحاظ سره مساوي شول.( غبار،افغانستان درمسير تاريخ۱،ص ۷۹۳)

شاه امان الله خان د خلکو په يوالي او د ملي وحدت په ارزښت ډېر ښه پوه شوی و، هېڅکله يې نه غوښتل چې پرته له احساسه دهغه په هکله خبرې وکړي. د کندهار په سفر کې چې په ۱۳۰۴ ل کال د لړم په ۷ د جمعې په ورځ، چې د جمعې لمونځ د شاه په امامت ترسره شو، د خرقه مبارک په جومات کې يې د جمعې لمونځ د خطبې د ايراد په يوه برخه کې د خلکو د يوالي په هکله وويل : (( هر څوک چې افغانستان کې اوسيږي پرته له استثنا ورته افغان ويل کيږي، نو د دراني، غلځايي، اڅکزايي يا (( اوبره)) يادول څه معنا لري؟ موږ ټول انسانان او مسلمانان يو، بايد ملي



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de

يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

يوالی ولړو او د هېواد د بهرني او کورني دښمن پر وړاندې يو موټی شو. زما پر وړاندې ټول هغه وګړي چې افغانستان کې ژوند کوي د ورور په شان دي.)) ( حاکميت قانون در افغانستان، خطبه های نماز جمعه از طرف شاه) کله چې شاه امان الله خان له واکمنی څخه لاس په سر شو او د کابل ارګ يې کندهار ته د تګ په موخه پرېښود، نو هزاروو زړورو وګړو د ميدان وردګ، کندهار، تګاب غوربند او نور وګړو په شان د اماني دورې د عدالت، راسته راوړنو او د اماني سلطنت د تاج و تخت د ساتنې په موخه ۷ مياشتې له مالي او ځاني سربښندنې دريغ ونه کړ، مګر هغه هېواد پاله شاه چې نه غوښتل واکمني په زور او د خلکو د وينو په تويلو سره ترلاسه کړي، همدا و چې هېواد يې د تل لپاره پرېښود. دا په داسې حال کې ده ، چې افغانانو د ۱۳۰۸ ل کال د ميزان تر ۲۳ نېټې پورې چې حبيب الله کلکانې د کابل له ارګ څخه و تښتېده او نادرخان واکمنی ته ورسېد، په دې فکر کې و،چې دا ټولې سربښندې د شاه د بېرته راتګ لپاره دي، نه د نادرخان د و اکمن کېدلو لپاره.

د يو سياسي رهبر لپاره که هغه شاه وي، که رئيس جمهور وي که امير وي له دې ستر وياړ نور نشته چې د بهرني او کورني دسايسو له امله د واک له سره څنډې ته کيږي او ملت يې پرته له کوم امتياز څخه ۷ مياشتې دده لپاره سر ورکوي خو سنګر نه ورکوي. هغه شخص چې دغه وياړ ور په برخه دی هغه شاه غازي امان الله خان دی.

۲۰۱۹/۸/۱۵

## اخذ ليکونه :


- سراج التواريخ، ۴ ټوک، دريمه برخه، ۶۶۷ مخ
- د افغانستان اساسي قانون: (( مواد : ۹ و۱۰و ۲۴،۲۲ )
- استاد اولسن، اسلام وسياست در افغانستان، ترجمه خليل الله زمر، ۱۹۹۹ دنمارک، ص ۱۱۴، ۱۲۴
- غبار ،افغانستان درمسير تاريخ۱،ص ۷۹۳





افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de

يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ